# دَ ایوب صابردَ فکر و فن مختصره جائزه

* نور البشر بشر
** ډاکټر نصر الله خان اسسټنټ پروفېسر اسلامیه کالج پوهنتون پېښور

پهٔ پښتو ادب کښې شلمه صدی ډېره زرخېزه صدی یادېږي ځکه چې دې صدی پښتو ادب ته ډېرې ودې ورکړې دي. پښتو یوه زړه ژبه ده چې یؤ شمېر څېړنکار، نقادان، ادیبان اؤ پهٔ زړهٔ پورې شاعران لري.پهٔ دغه نوموړي شاعرانو کښې دَ جدید دور نومیالے شاعر ایوب صابر هم لکه دَ نمر روښانه نامه ده چې دَ پښتو پهٔ شعري اؤ نثري ادب ئې ډېر احسانونه کړې دي. ایوب صابر دَ نثر سره څنګ پهٔ څنګ نظم هم لیکي اؤ غزل هم لیکي.
دَ ایوب صابر دَ ژوند پهٔ حواله همېش خلیل لیکي.

" خپل نوم محمد ایوب اؤ تخلص ئې صابر ؤ.دَ کوهاټ پهٔ "ځنګل خېل" نومې کلي کښې دَ حافظ محمد یوسف قریشي کره دَ کال ۱۹۲۲ء دَ فروری پهٔ څلیریشتمه ورځ پېدا شهٔ."[1]

ایوب صابر دَ پښتو جدیدې شاعری نامتو شاعر، ډرامه نګار، محقق، طنز نګار، افسانه نګار غرض دا چې پهٔ هر مېدان کښې ئې ښهٔ پهٔ نره زغل کړے دے. دَ فن لهٔ رویه دَ هغه نثر اؤ شاعري دواړه پهٔ تول پوره دي.پهٔ فن کښې ډېره خبره پهٔ اسلوب کېږي. دَ هغه اسلوب ځانګړے حېثیت لري.

دَ اسلوب ټکے اګر کهٔ پهٔ پښتو ادب کښې ډېر زیات مروج نهٔ دے خو بیا هم څوک دَ دغه لفظ دَ جامعیت نه انکار نهٔ شي کولے. پهٔ اُردو ادب کښې دغه لفظ ښهٔ مروج دے. پهٔ فارسی اؤ عربی ادبیاتو کښې دَ اسلوب دَ پاره دَ "سبک" ټکے استعمالولے شي. دې سره سره انداز بیان، طرز تحریر،طرز نګارش،پېرایه ګفتار اؤ طرز بیان هم پهٔ دغه معنیو کښې استعمالېږي. پهٔ انګرېزي ادب کښې دَ اسلوب دَ پاره دَ سټائل ( Style) ټکے استعمالېږي. دا لفظ هم ډېر زیات جامع اؤ ښکلے دے.

دَ اسلوب پهٔ حقله پروفېسرافضل رضا لیکي.

"دَ ژبې اؤ ادب سره تعلق لرونکیو ته دَ "اسلوب" ټکے نه څهٔ نوے دے اؤ نهٔ عجیبه . پهٔ اُردو ادب کښې خو هډو دَ دې ټکي پهٔ ځائې بل ټکے نهٔ دے څرګند شوے البته پښتو ادب دَ خپل تنقیدي ادب دَ کموالي لهٔ ټسه دَ دې ټکي نه پهٔ دومره واقف نهٔ دے اؤ دغه وجه ده چې پهٔ ځنې لوستونکیو به دا ټکے اوپره اوپره، پردے پردے لګي. دا نهٔ چې پښتو کښې دَ اسلوب دَ پاره به بل ټکے نهٔ شي پېدا کېدے طرز ادا اؤ انداز هم دَ اسلوب دَ قافلې غړي دي ولې کوم فني اؤ تنقیدي مقام چې اسلوب ټکے لري دَ هغې تر مخ دا نور ټکي باید چې ترې نه څو ګامه وروستو وي نو ځکه کهٔ مونږ پښتو ژبې ته دا ټکے رانته باسو نو پهٔ دې دَ پښتو دَ تنقیدي ادب ځولۍ ډکېږي اؤ دَ ادب دَ نویو تقاضو پهٔ رڼا کښې دَ دې ټکي استعمال بې ځایه یا بې خونده نهٔ دے."[2]

غرض دا چې دَ لیکونکي لاس لیک یا لیکلو انداز ته اسلوب وئیلے شي. دَ هر لیکونکے خپل اسلوب وي. دَ اسلوب لهٔ وجې دَ یؤ لیکونکے پېژندګلو کېدے شي. دَ صابر اسلوب هم ځانګړتیا لري. لکه چې په پښتو شعرو ادب کښې خپل مقام پهٔ خپل جدا اسلوب کښې پهٔ ګوته کوي چې:

"دَ پښتو پهٔ شاعرئ کښې دَ صابر وېنا
کهٔ هر څو ډېره ساده ده خو ژوره ده."3

دَ اسلوب نه علاوه دَ هغه پهٔ ادبي سرمايه کښې دَ فن هر اړخ برخېره شوے دے. دَ هغه پهٔ ليک کښې سوز هم شته ساز هم شته. ګداز هم شته، طنز خو دَ هغهٔ خپل مېدان ؤ، موسيقيت هم شته، نشتريت هم شته، کلاسکيت هم شته، رومانويت هم شته اؤ ترقي پسندي خو ئې غوره موضوع وه.

صابر يؤ ښهٔ غزل ګو شاعر دے اؤ دَ شاعرئ دَ نورو اصنافو سره ئې پهٔ غزل باندې هم ښهٔ ژور عبور حاصل دے اؤ پهٔ دې فن ښهٔ قدرت لري.څنګه چې صابر پهٔ ازاد نظم باندې خپله طبع ازمائي کړې ده. حقيقت دا دے چې صابر دَ ازاد نظم باچا دے خو دَ دې سره چې هغه پهٔ ځيګرخون کښې کومې غزلې ليکلې دي. هغه هم ډېرې سوچه اؤ زړهٔ راښکونکي دي.صابر دَ غزل ټول لوازمات بر محل پکار راوستي دي. دَ هغه پهٔ غزلو کښې دَ ګوتې نيولو ځائې نشته اؤ دَ دغه غټه وجه دا ده چې ژبه ئې سوچه سپېڅلې اؤ اٰسانه استعمال کړې ده اؤ ټوله شاعري ئې دَ وخت هينداره ده.
لکه چې وائي.

بس دے شېخي دې اوس څرګنده شوله
شېخه پهٔ ترخ کښې دې بوتل ښکاري.4

بل شعر کښې وائي:

دا عمل غزل بللے شي صابره
چې هوسئ ټوپاکې ووهي رفتن ته 5.

طنز و نشتريت دَ صابر خپل مېدان دے هغه دَ معاشرې اصلاح پهٔ جدا اسلوب کښې ډېره پهٔ طنزيه انداز کښې کړې ده لکه چې وائي:

"شېخه چې بل ته دَ حق لارې ښئي
کله خو تهٔ هم رښتيا وايه کنه.6

مونږه مېخواران يو هر ماښام څښو
شېخه! مونځ خو نهٔ دے چې قضا شي.7

ايوب صابر دَ خپل دور يؤ نمائنده شاعر دے اؤ دَ پښتو پهٔ نوي دبستان کښې يؤ ممتاز مقام لري. هغه نظم هم ليکي اؤ نثر هم نقاد هم دے اؤ طنز نګار هم دے. تذکره نګار هم دے اؤ صحافي هم، خو دَ هغوي دغه کمالات صرف پښتو ژبې پورې محدود نهٔ دي بلکې پهٔ اُردو کښې ئې هم خپل قلم برابر چلولے دے.

اګر کهٔ دَ هغهٔ پهٔ شاعرئ روايتي اثرات محسوسيږي ولې هغهٔ پهٔ روايتي انداز شاعري نهٔ ده کړې. دَ هغهٔ شاعري دَ هغهٔ دَ نويو تجربو بيان دے اؤ هم دغه وجه ده چې دَ هغهٔ دَ شاعرئ لب ولهجه دَ نورو نه ځان له اؤ جُدا ده. دَ صابر درد انفرادي هم دے اؤ اجتماعي هم. دا هغه درد دے چې دَ خپل غم سره انساني غم هم لري. بلکې کله کله خو دَ انسانيت پهٔ غم کښې خپل غم هم هېر کړي اؤ دا يؤ داسې درد دے چې پهٔ کښې دَ خپل غم نه پرته دَ انسان غم هم شامل دے. پهٔ حقيقت کښې دا دَ دردمندئ هغه فلسفه ده چې انسان ته دَ قنوطيت نه امان ورکوي.

دغه د ټول انسانیت درد و غم پهٔ شعرکښې داسې رانغاړي:

پهٔ ما څهٔ ځېرے کوئ چې پسرلے دے
دَ غریب سړي سپرلے به څهٔ سپرلے وي.8

خدایه! ستا کاریګرۍ ته حق حېران شم
چې وګورم دَ ګلونو شګفتن.9

ننګیالۍ ټُوره تر ملا کړې را ته خدایه
چې سر ټیټ وي ما ته تل دَ هر دُښمن.10

دَ دوي پهٔ شاعرۍ کښې داسې ډېر شعرونه شته چې اٰفاقي صداقتونه لري.
ایوب صابر پهٔ ځیګرخون کښې نزدې نزدې پهٔ هر صنفِ سخن طبع ازمائي کړې ده اؤ پهٔ شاعرۍ کښې ئې ګڼ اړخونه پهٔ نظر راځي.لکه مذهبي، اخلاقي اؤ اصلاحي شاعري،عشقیه شاعري،روماني شاعري، ترقي پسندي اؤ حقیقت نګاري وغېره موضوعات ترسترګو کیږي.
چې دَ دې خبرې اقرار هغهٔ پهٔ خپله هم کوي وائي چې:

دَ صابر وېنا کهٔ نظم وي کهٔ نثر
یؤ مقام لري پهٔ نوي دبستان کښې.11

دَ دې تر څنګه دَ صابر پهٔ کلام کښې مذهبي اړخ هم ډېر مظبوط دے. دَ هغه مذهبي شاعري دَ قدر وړ ده. دا دَ هغه دَ زړهٔ اواز دے اؤ پهٔ دې عمل کول دَ هر مسلمان فرض دي.

صابر چونکه پهٔ یوه مذهبي اؤ علمي کورنۍ کښې سترګې غړولې دي دَ یوې مسلمانې مور پهٔ غېږ کښې لوئې شوے دے اؤ دَ یؤ مسلمان پهٔ کور کښې ئې خړ پوسې کړې دي اؤ تربیت ئې موندلے دے. پهٔ دې وجه پهٔ صابردَ خپل ماحول کلک اثر دے.دَ اسلامي احکامو نه ښهٔ واقف دے. دے دَ اسلامي احکامو،عباداتو اؤ عقائیدو ښهٔ پوهه لري اؤ دَ دې پهٔ پوره کولو کښې دَ خالق رضا ګڼې اؤ هم دغه وجه ده چې صابر دَ ځیګرخون اغاز دَ الله پاک دَ مبارک اؤ بابرکت نوم نه کړے دے.
دَ کوم کار اغاز دَ خالق کائنات دَ نوم نه وشي نو دَ هغهٔ انجام ښهٔ وي دَ ځیګرخون اغاز صابر پهٔ دې ډول کوي چې.

پهٔ ظاهره کهٔ مفقود دے
پهٔ باطن کښې لا محدود دے.12

"نهٔ سپرلے غواړمه خدایه نهٔ چمن
نهٔ زهٔ غواړم دَ خوبانو انجمن

سوز پهٔ زړهٔ کښې ستا دَ مینې څکه غواړم
چې اوچت مقام لري پهٔ تا مئین.13

دې سره سره دَ خدائې تعالٰی نه دا سوال هم کوي چې:

همت را چې ستا پیغام هر ځائې ته یؤ سم
چې نهٔ غر شي لهٔ ما پاتې نهٔ دَ من. 14

غرض دا چې دَ صابر مذهبي شاعري دَ ډېر اهمیت حامله ده اؤ سراسر دَ خدائې اؤ دَ هغه دَ رسول ؐدَ اطاعت اؤ دَ هغه دَ پېروئ نه ډکه ده.

نزدې نزدې دَ هرې ژبې شاعرانو دَ حُسن اؤ عشق شاعري کړې ده اؤ حقه خبره دا هم ده چې شاعري صرف اؤ صرف دَ حُسن اؤ عشق پېدوار دے.

دَ شاعرئ ټوله اډانه پهٔ دې دواړو ځیزونو باندې ده. کهٔ چرې حُسن اؤ عشق نهٔ وے. نو شاعري به هم نهٔ وے ځکه چې دا دواړهٔ دَ شاعرئ دَ پاره لازم وملزوم دي. دَ ادمؑ نه راواخله تر دې وخته پورې دُنیا ټوله پهٔ حُسن اؤ عشق باندې ولاړه ده .ځکه خو صوفي عبدالرحمان بابا فرمائي.

دا جهان دے خدائې لهٔ عشقه پیدا کړے
دَ جلمهٔ مخلوقاتو پلار دے دا.15

حُسن اؤ عشق دَ انسان یوه فطرتي جذبه ده اؤ دَ دې نه بغېر دَ انسان ژوند نامکمله دے حُسن داسې لافاني قوت لري چې ډېر ښهٔ ښهٔ ځوانان ئې را پرځولي دي اؤ داسې سرونه ئې ځان ته ټیټ کړي دي چې دَ چا دَ تورې درز اؤ شرنګ به پهٔ ټوله نړئ باندې مشهور ؤ. دَ حُسن دَ اثر نه صابر غوندې شخصیت هم نهٔ دے بچ پاتې شوے اؤ ځان طرفته ئې مائل کړے دے اؤ دَ عاشقئ پهٔ مرض ئې اخته کړے دے. لکه چې وائي

چې دَ یار دَمینې غم پهٔ لاره ځي
زما زړهٔ ورسره سم پهٔ لاره ځي.16

زړهٔ مې لوېې دے صابر هم
دَ ستا غم پهٔ کښې ځائېږي.17

یؤ پرهر نهٔ دے چې زهٔ ئې در ښکاره کړم
ستا دَ لاسه خو چُور چُور دے زما زړهٔ.18

دَ دې نه علاوه صابر یؤ ترقي پسند اؤ بشر دوست شاعر هم ؤ. دَانسانیت غم دَ انساني اوصافو نه یؤ ډېر اهم اؤ ضروري وصف دے دَ هر انسان پهٔ زړهٔ کښې دا ماده ضرور وي خو ډېر خلق داسې دي چې دَ دې اظهار پهٔ ښکاره نهٔ شي کولے. داسې کول دَ هغوي دَ پاره ډېر مشکل وي. ولې الله پاک داسې انسانان هم پېدا کوي چې دَ دغه احساس اظهار دَ پاره څهٔ لارې خوښې کړي.دَ دې احساس دَ اظهار دَ پاره دَ ټولو نه غوره ذریعه شعر دے. دَ کومو

شاعرانو په زړهٔ کښې چې دَ انسانیت تړپ وي دوي ته ترقي پسند لیکونکے وئیلے کیږي. صابر دَ خپل فن موضوع هم دغه ګرځوي او دَ نړۍ دَ هر وګړي غم خپل غم ګڼي. لکه چې دَ دې دور انسان ته ګوته نیسي:

یو مشین دے چې عاري دے لهٔ احساس
همدردي نشته دَ دې دور انسان کښې.19

دَ صابر په نزد هر هغه انسان ډېرعظیم انسان دے څوک چې دَ اولس په کار راځي. دَ اولس خیال ساتي دَ اجتماعي ښېګړې دَ پاره کوشش کوي خپل ځان دَ هغوي دَ پاره وقف کوي دَ قوم فائده خپله فائده ګڼي او دَ قوم نقصان خپل نقصان ګڼي. خود غرضي په کښې نهٔ وي. لکه چې وائي.

ځان ځاني دَ خود غرضو خلقو کار دے
دَ اولس په کار چې را شي ځان هغه.20

"دَ انسان په وینې پائي
خدایه! دا څنګه انسان دے

لکه سپي دَ سپي دښمن وي
دَ انسان دښمن انسان دے.21

خدایه پاکه څوک خندا کوي څوک ژاړي
یو انسان دې سر بالاو بل غلام دے.22

دَ ایوب صابر په کلام کښې اصلاحي او اخلاقي شاعري ډېره په ښکلي انداز او په جدا اسلوب کښې بیان شوې ده.

اخلاقي او اصلاحي شاعري دَ ادب یوه اهمه موضوع ده.دَ دې په برکت په معاشره کښې دَ اعلٰی قسم اوصاف په ګوته کیږي او دَ معاشرې دَ بدو اړخونو په کښې غندنه کیږي.اخلاقیات دَ یوې معاشرې دَ معیار معلومولو دَ پاره دَ زرکاڼي حېثیت لري کومه معاشره چې دَ اخلاقو او اخلاقي اقدرو نه خالي وي. نو هغه کله هم خوشحاله او ترقي یافته معاشره نهٔ شي جوړېدے. شاعر او لیکونکے دَ یوې معاشرې او ماحول اوسېدونکے وي په معاشره کښې چې څهٔ کیږي په دې کښې ئې څهٔ خبرې خوښې وي او څهٔ ئې بدې شي. دغه شان دے خپل احساسات همېشه نورو ته رسول غواړي او دَ دې دَ اظهار دَ پاره دوي دَ شعر ذریعه دَ هر څهٔ نه بهتره ګڼي . دے دَ معاشرې اوسېدونکیو ته دَ ښهٔ عمل تلقین کوي او دَ بد عمل او بدو لارو چارو نه ور ته دَ لرې وسېدو خبر دارے ورکوي.

دغه شان چې څومره دَ يؤ شاعر پهٔ کلام کښې اخلاقياتو برخه زياته وي دومره به دَ هغه کلام اوچت اؤ معياري ګڼلے شي. صابر هم يؤ اخلاقي شاعر دے اؤ دا هر څهٔ ئې پهٔ کلام کښې موجود دي.پهٔ کلام کښې ئې دَ ښو ښو اخلاقو درس ورکړے دےاؤ پهٔ کلام ئې دَ اخلاقي شاعرۍ رنګ ښهٔ جوت دے. دَ موجوده دور دَ انسان دَ کردار تجزيه پهٔ دا ډول کوي.

صابر عمل دَ لارې مل ګڼي. دَ خپل عمل پهٔ برکت سره هر څهٔ کولے شي. دے دَ خپل عمل پهٔ برکت دَ ژوند نه جنت هم جوړولے شي اؤ دوزخ هم، ولې چې دَ انسان پستي اؤ زوال دَ هغه پهٔ عمل کښې دي. دَ خپل عمل پهٔ برکت دے پهٔ عوامو کښې ځان ته لوړ مقام پېدا کولے شي اؤ دَ عمل پهٔ وجه دے خپل ځان دَ خلقو دَ سترګو ازغے کولے هم شي. لکه چې وائي.

دَ تقدير مړنے نهٔ يم پهٔ تدبير نهٔ ده موقوفه
دا چې زهٔ دَ خلقو خوښ يم خدائېګو دا مې خپل عمل دے.23

دَ مرګي دَ سيند يوې چپې لاهو کړو
دَ ژوندون ساز و سامان ته خو خيال وکړه.24

غرض دا چې دَ صابر دَ کلام کهٔ اخلاقي اړخ دے اؤ کهٔ اصلاحي اړخ دے دَ دهٔ رنګ اجتماعي وي کهٔ انفرادي وي خو ولې پيغام ئې يؤ دے اؤ ډېر پهٔ زړهٔ ورتوب سره ئې دَ معاشرې ځينې ناکردې بيان کړي دي دَ صابر دَ کلام اخلاقي اؤ اصلاحي اړخونه دواړه ښهٔ روښانه دي دَ هغه پېغام دَ هر چا دَ زړهٔ اواز دے صابر دَ معاشرې عېب پهٔ ګوته کوي اؤ کهٔ پرې نکته چيني کوي نو دَ هغه مدعا صرف اؤ صرف دَ معاشرې اصلاح ده.ځکه چې هغه دَ معاشرې دَ اصلاح پهٔ خاطر خپل ځان اؤ خپله وينه وچه کړې وه ځکه خو دا دعوه کوي چې:

"دَ زړګي چې وينې وڅووم بېت شي
زمانې زما نقصان ته خو خيال وکړه.25

## حــــــــــــوالـــــــــــــې


1. همېش خلیل،پښـــتانۀ لیکوال اول ټوک،اباســـین پرنټنګ پرېس جنګي محله پېښـــور،اشـــاعت دریم کال جولائي ۲۰۱۰ء،مخ ۳۹۷
2. ډاکټر اقبان نسـیم خټک،خوشـحال اؤ جمالیات،دَ جدون پرېس پېښـور،اول ځل کال ۱۹۷۸ءمخ ۵۶۱
3. ایوب صابر،ځېګرخون،عامر پرنټ اېنډ پبلشرز پېښور،درېم چاپ کال ۲۰۱۶ء ،مخ ۱۲۶
4. همدغه،مخ ۱۲۰
5. همدغه،مخ ۱۵۵
6. همدغه،مخ ۱۱۰
7. همدغه،مخ ۱۵۳
8. همدغه،مخ ۲۱۲
9. همدغه،مخ ۴۲
10. همدغه،مخ ۴۳
11. همدغه،مخ ۱۴۶
12. همدغه،مخ ۴۱
13. همدغه،مخ۴۲
14. همدغه،مخ ۴۲
15. سید رسول رسا،دَ عبدالرحمان بابا دیوان،یونیورسټي بُک ایجنسي خېبر بازار،پېښور،کال س ن،مخ ۱۵
16. ایوب صابر،ځېګرخون،عامر پرنټ اېنډ پبلشرز پېښور،درېم چاپ کال ۲۰۱۶ء ،مخ ۱۱۲
17. همدغه،مخ ۱۱۷
18. همدغه،مخ ۱۱۱
19. همدغه،مخ۱۴۵
20. همدغه،مخ ۶۲
21. همدغه،مخ ۱۴۷
22. همدغه،مخ ۱۶۳
23. همدغه،مخ ۱۴۴
24. همدغه،مخ ۱۳۷
25. همدغه،مخ ۱۲۷